# په EACH کې د ژوند پای ملاتړ او مراقبت

موږ غواړو ډاډ تر لاسه کړو، چې ستاسي ماشوم د ژوند په وروستي پړاو کې د امکان تر کچې ارام وي.

او مراقبت يې په ښه توګه پلان شوی او همږغی شوی وي (د Advance Care Plan سند په کارولو سره

د اړتيا په صورت کې). په دې کې به د EACH Team غړي هم شامل وي څو په منظمه توګه ستاسي د ماشوم نښې نښانې وڅاري

او د ملاتړ او مراقبت اړتیاوو ته ئې ځواب ووايي. کېدای شي ستاسي څخه د ماشوم

د مړيني لپاره ستاسي د خوښې وړ ځای په اړه وپوښتل شي. ډېری وختونه دا کېدای شي په کور، روغتون يا مرستون کې وشي.

د ژوند پای ملاتړ او مراقبت لپاره چمتووالی ستاسي د ماشوم او کورنۍ په خوښه او ستاسي د ماشوم په مراقبت کې د شريکو مسلکي کسانو د تخصص پر اساس مخته وړل کېږي. کله چې ستاسي ماشوم د (ژوند پای) ته نږدې شي، نو د ماشوم په روزنه کې د شاملو متخصصينو يو ټيم به ستاسي د ماشوم او کورنۍ د خوښې په نظر کې نيولو سره ملاقات وکړي او د ملاتړ او مراقبت پلان به جوړ کړي. دغه څو رشتهای مجلسونه مرسته کوي، څو ډاډه شو چې تاسي او ماشوم ته مو کېدونکي پاملرنه مناسبه ده او ټول شريک لوري لازم معلومات په اختيار کې لري.

يو مخکښ مسلکي څو رشتهای ټيم به وټاکل شي څو ستاسي سره په منظمه توګه اړيکه وساتي. د ليډ مسلکي ټيم د جوړولو موخه داده، چې ملاتړ چمتو او ډاډ تر لاسه کړي، چې تاسي ټول هغه معلومات لرئ کوم چې ستاسي د ماشوم د مراقبت اړوندو بحثونو او فيصلو کې ستاسي او ستاسي د ماشوم د مثمر ګډون لپاره لازم دي.

د ژوند پای ملاتړ او مراقبت ته د ماشومانو د لاسرسي لپاره مکلف يو چې يو تعداد حقوقي پروسي پر ځان تطبيق کړو. د مثال په توګه، موږ کېدای شي له کوم ډاکټر وپوښتو (ستاسي GP، د هاسپيس يا مرستون GP يا ستاسي سلاکار) چې په منظمه توګه ستاسي ماشوم وګوري (هر پنځلس ورځې يا هره مياشت) څو د مرګ علت ښودلو په طبي سندونو کې مرسته وکړای شي. که ستاسي ماشوم په ناڅاپي توګه يا تر متوقع وخت وړاندي مړي، شايد اړتيا وي، چې له Coroner سره بيړنی خبرې وشي. په معمول ډول دغه چاره ستاسي د ماشوم په پالنه کې د کوم شريک ډاکټر لخوا کېږي. يو قانوني مکلفيت شتون لري، چې له مخې ئې بايد د ماشومانو مړيني د روغتيايي تفتيش او د ماشوم مړيني د ارزوني پروسو له لاري و ارزول شي. د (کله چې ماشوم مړي: د والدينو او پالونکو لاپاره لارښود) ليفـليټ دا پروسه تشريح کوي او درته ښيي چې له EACH او خپلو نورو سيمه‌ييزو خدماتو څه هيله لرلی شي.

د ماشوم تر مړيني وروسته کېدای شي هيله ولرئ چې د هغوی جسد مرستون کې پاته شي، ستاسي له کوره مرستون ته يووړل شي يا هم د جنازې تر وخته ستاسي په کور کې پاتي شي. موږ د جنازې اړوندو خدماتو سره له نژدې کار کوو، مشوره او همکاري غواړو څو په دغه وخت کې د مناسب او خوندي مراقبت له چمتو کولو ډاډ تر لاسه شي.

HRH The Princess of Wales EACH :Royal Patron – www.each.org.uk –EACH) ) د ختیځ انګلیا د ماشومانو هاسپیس
is a registered charity (no. 1069284)

د غوښتنې په صورت کې دغه ليفـليټ په بله بڼه هم چمتو کېدای شي (په بله ژبه، بريل او په اسانی لوستل کېدونکی خط).

**د وير پرمهال مراقبت**
EACH کولئ شي د ماشوم تر مړيني وروسته د سمدستي مودې او تر هغه وروسته د وير کولو پړاو لپاره درته ملاتړ او رهنمايي وکړي. د لا ډيرو معلوماتو لپاره د سلامتيا پر ملاتړ زموږ ليفـليټ وګورئ.

**د بياټريس مور** "زموږ له را رسېدو سره سم راته تود هرکلی وويل شو او د امکان تر کچې ټول ضروري شيان راته چمتو کړل شول، څو د خپلې ښايستې ماشومې سره د وروستي خدای پاماني پرمهال څو ارامي شيبې تيرې کړو.

هغه د Moses په باسکيټ کې را وړل شوه، خپله خونه ئې لرل، چې پر دروازه ئې د هغې نوم ليکل شوی و او دې ته د ټولو لخوا په ډېره درنه او ښه سترګه کتل کېده. موږ د والدينو په توګه په دغسې يو غمجن ماحول کې د خدای پاماني لپاره تر دغه د بهترې طريقې هيله نشوای کولئ.

**د فينلي مور** "موږ په مرستون کې له يو بل سره ۹ له خاطراتو ډکې شپې تيرې کړې. موږ وکړای شوی له طبي ټيوب او پيپونو پرته د فينلي عکسونه واخلو، ملګرې او دوستان هم په عين وخت کې راتللی شوای او نوموړی هره شپه زموږ په منځ کې ويده کېدی - هغه څه چې روغتون کې مو نشوای کولئ. «موږ د EACH له موسيقی تيراپيست سره همږغي وکړه او يوه سي ډي مو جوړه کړه. په سي ډي کې اورېدل کېږي چې فينلي ږغونه باسي او دا زموږ لپاره ډېر ارزښت لري. مرستون د روغتون غوندي بوی نه لاره، بلکه د يوه کور په شان و چې فينلي پکښې د روغتون غوندي طبي مراقبت ته لاسرسی درلود. ددغو ټولو شيانو پرمهال د EACH کارمندانو زموږ لپاره پخلی وکړی او لوښي يې ووينځل - يعني موږ ته فرصت راکړل شو چې ټولې وروستی شيبې له فينلي سره تيرې کړو. دا زموږ د ژوند تر ټولو سخته تجربه وه، خو په EACH کې وخت تيرولو راته دغه شيبه يو څه اسانه کړه. د فينلي تر وفات کېدو وروسته نوموړی د څه وخت لپاره هلته و څو موږ يې ديدن وکړای شو او د EACH هر کارکوونکي د جنازې چارو په تنظيم کې مرسته وکړه. زه اوس هم د وير کولو لپاره هلته ځم او د ياد او دعا ورځې هميشه هلته ورځو.EACH غوره ادرس دی او نه پوهېږم چې له دوی پرته به موږ څه کولئ. دلته هميشه په ورين تندي ټولو ته هرکلی ويل کيږي او فينلي له لومړي ځل ورتګ سره سم داسې احساس وکړئ لکه خپل ځای چې وي.»

**د تيا مور** «موږ د تيا تر وفات کېدو وړاندې يوه اوونی په هاسپيس کې پاتې شو او هيڅ ستونزه مو نه لرل. په دې توګه نو موږ تر وروستی شيبې له هغې سره و. په روغتون کې هر نوبت باندې يوازې دوو تنو د کورنی غړو ته اجازه وه او د کورنی د غړو ليدنو کې ستونزې وې. تيا د هاسپيس له برکته مجبوره نشوه چې روغتون کې وفات شي.»

**زموږ له ټيم سره اړيکه ونيسئ**
EACH Milton (Cambridgeshire) 01223 815100; eachmiltonadmin@each.org.uk
EACH The Nook (Norfolk) 01603 967596; nook.admin@each.org.uk
EACH The Treehouse (Suffolk and Essex) 01473 271334; ipswichadmin@each.org.uk
EACH Symptom Management Nursing Service 0808 1969495; each.each.smns@nhs.net
www.each.org.uk/contact-us

HRH The Princess of Wales EACH :Royal Patron – www.each.org.uk –EACH) ) د ختيځ انګليا د ماشومانو هاسپيس
is a registered charity (no. 1069284)

د غوښتنې په صورت کې دغه ليفـليټ په بله بڼه هم چمتو کېدای شي (په بله ژبه، بريل او په اسانی لوستل کېدونکی خط).